PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

اتحاد اسلامي

بيانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان

پرله پسې گڼه «۲۳۲» اوم کال «۳٤» گڼه
دوشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دعقرب «۲۷» د ۱٤۱۲هـ ق
کال جمادی الاول «۱۲» اود ۱۹۹۱میلادی کال دنومبر«۱۸»

په هرات ولایت کښې دمزدور رژیم دري پوستې فتح شوې

د هرات له ولایت نه رارسیدلي ریپوټونه وائي چې مجاهدینو د نومبر په ۱٤ نېټه دهرات - اسلام قلعه په لویه لاره د گزره، غوریان په سیمه کې د رژیم پرپوستو بریدوکړ چې دهغه په نتیجه کې د ملحد رژیم یوه پوسته فتح، یوشمېر عسکر اوملیشه مړه اوشپږ تنه نورتي د یومیل گرینوف ، څلور میله کلاشینکوفونو ، یوه (٤۰) ډزي او یوې اندازې مهماتو سره نیولي دي .

٤ مخ

یک قرارگاه ملیشه رژیم کابل فتح شد

درولایت فاریاب یک قرارگاه ملیشه رژیم مزدور کابل فتح و ۲۲ نفر با سلاحهاي شان به اسارت مجاهدین در آمدند .

راپورهاي رسیده ازمنابع مجاهدین ازولایت فاریاب حاکیست که مجاهدین اخیراً یک قرارگاه بزرگ ملیشه هاي رژیم را درعلاقه داري المار واقع درجنوب غرب وغرب شهر میمنه مرکز ولایت مذکورهدف سلاح ثقیل قرارداده درنتیجه سرکرده، ملیشه بنام زمان همراه با (۱۷) تن ازمنسوبین وملیشه قرارگاه مذکور هلاک و ۲۲ ملیشه مسلح دیگر اسیر شدند .

صفحه ٤

دافغان مجاهد ولس به هیڅکله دمسکوڅخه راغلي فیصلې اوپه مسکوکښې جوړشوې حکومتونه ونه مني

پوهاند «سیاف»

مونږپخوا هم اعلان کړی وه او دادی اوس بیا یوځل پردې مطلب تأکید کوو : چه روسان نه شرعاً اونه عقلاً اونه سیاستًا ددې حق لري چه زمونږدملك دسرنوشت په ټاکلوکښې برخه واخلي .

اوکوم حکومت چه دروسانو دتوافق په نتیجه کښې مینځ ته راځي ولوکه په ظاهرکښې اسلامي عنوان هم ورکړي هغه پردی اودپردو په لاس جوړشوی حکومت دی اوداستعمار یونوی چتر دی چه دافغان ولس په سر به سیوری اچوي اوځرنگه چه له وضعې اوحالت څخه ښکاري ددې حکومت عناصربه هم ددواړو خواوو په توافق ټاکل کیږي .

ددغسې حکومت منل شرعًا ناروا اواطاعت يې حرام دي په کوم حکومت کښې چه دکافرو رضا اوتوافق شرط وي خو په هغه حکومت باندې که هرڅواسلامي القاب کیښودل شي هغه یو غیر اسلامي حکومت دی .

الله جلت عظمته فرمايلي دي :

﴿ ولن ترضى عنك اليهود ولا النصارى حتى تتبع ملتهم . . . الایه ﴾

«هیڅکله به راضي نشي له تاڅخه یهود اونه نصارې ترڅوچه دهغوی دملت پیروي ونکړې ».

اوبله دیادونې وړ خبره داهم ده لکه ځرنگه چه دمسکو په خبروکښې اتفاق شوی دی داحکومت به دوه کاله وروسته عام انتخابات کوي اودا واضحه خبره ده چه پدې انتخاباتوکښې به کافر اومسلمان په گډه شرکت کوي چې داپه خپله داسلام داحکامو اوارشاداتو او اصولو خلاف خبره ده .

اوبله دیادونې خبره داهم ده چه مجاهدین ټول پدې پوهیږي چه داسلامي لفظ دمؤقت حکومت تر اړخه پدې خاطر په اعلامیه کښې زیات شوی دی ترڅو دبې طرف حکومت دهغوغیر مسلمانو عناصرو په مخ پرده واچوله شي کوم چې دروس اوامریکې لخوا پدې حکومت کښې داشتراك پخاطر پیشنهاد کیږي .

افغان مجاهد ولس بیدار ولس دی ددغې نوې دسیسې ځواب به هم داسې ووايي لکه دانگریزانو او روسي پوځونو ځواب يې چه ویلی دی .

اوپدې ملك کښې پرته له مجاهدینو بل هیڅوك حکومت نشي کولای اوهغه حکومت به دې ولس ته منلی وي چه دالله په توفیق دمجاهدینو په اراده اودمجاهدینو په لاس جوړشوی وي .

په ننگرهار ولایت کې دخاد لس تنه غړي له شپاړسو بمونو سره ونیول شول

د رارسیدلي ریوټ له مخې : دننگرهارولایت اتلو مجاهدینو د نومبر په ۱۵ نېټه د کابل رژیم د خاد د شبکې یوه لویه دسیسه دشینواروډلوکي ولسوالۍ په مربوطاتو کې شنډه کړې اولس تنه د خاد غړي د مجاهدینو په جامه کې چې د جلال آباد د خاد رئیس «ملتان» سره په ارتباط تورن دي د (۱٦) ټایم پنسل بمونو اویوزیات شمیر افغانیو سره بالفعل نیولي اود خادیانو قوماندان ډاکټرصدیق د (۲۰) تنو نورو خادي غړو سره سرحداتو ته په تیښته بریالي شویدي .

د خبر پراساس : د خاد نیول شوي غړي هریو گلاجان ، سید رحیم ، محمد گل ، هاشم ، سید امیرجان ، شاه غاسي او ناصر په لمړني تحقیق کي د مجاهدینو د بي ام ٤۱ دستگاه ته د بم ایښودلو ، په مجاهدینو کي د اختلافاتو اوگډوډیو پیداکولواورژیم ته د مجاهدینو د سنگرونو په نښه کولو اوخلکوکي دورانکاریو په خپرولو اعترافونه کړي او ویلي ئي دي چې ډاکټر صدیق دخاد لخواهره میاشت ۷ لکه افغاني اونورو غړوته ئي یو، یولك افغاني د مجاهدینو دمشرانواوقوماندانانودوژني او دفترونو کښي دبمونودچولو لپاره ورکول کیږي .

منبع زیاته کړي ده چې د خاد

صفحه ٤

وقوع انفجاردرمسجد «عثمان پاشا» یوگوسلاویا

دشمنان اسلام دریك اقدام تروریستي علیه اماکن مذهبي ومقدس مسلمانان با بمبي درمسجد « عثمان پاشا » اصلي ترین مسجد شهر تریبنیه واقع درجمهوري « بوسني هرزگوین » یوگوسلاویا منفجر کوند که خسارات قابل ملاحظه اي ببار آورد .

خبرگزاري جمهوري اسلامي بتاریخ ٢٤ اکتوبر ضمن گزارش این مطلب افزود که طي ماههاي اخیر چندین مسجد دریوگوسلاویا هدف بمب گزاري واقع شده است .

تریبینیه مرکز منطقه موسوم به شرق هرزگوین که اخیراً توسط اکثریت صرب ساکن این منطقه « خودمختار » اعلام شد ، میباشد .

حدود ۲۰ درصد جمعیت « تریبینه» مسلما ن هستند

روابط صربیها ومسلمانان درجمهوري بولني هرزگوین کاملاً تیره است این موضوع عمدتاً بواسطه اصرار

صفحه ٤

دستگیري ٦۰ محصل مسلمان درمراکش

پولیس مراکش بتاریخ ۳ نوامبر با ورود به دانشگاه « اوجا » درشمال شرقي این کشور ٦۰ محصل مسلمان را دستگیر کرد .

بگزارش رادیو فرانسه این اولین موج دستگیري محصلین مسلمان بنیاد گرا در مراکش پس ازدرگیریهاي میزان گذشته درمحوطه دانشگاه میباشد .

په کندزکې دخاد ۱٦تنه غړي وژل شوي دي

مجاهدینو د اکتوبر په (۲٦) نېټه د کندز ښار د باغ میري په سیمه کې د کابل رژیم د قواو پرېو کاروان باندي برید وکړ ، چې د هغه په نتیجه کې د کمونیستي رژیم د کاروان (۱٦) تنه د خاد غړي وژل شوي ، یو افسر ئي ژوندي نیولي اویوشمېر نورئي تښتیدلي دي .

ریوټ زیاتوي چې مجاهدینو پدي جگړه کي د رژیم د قواو څخه څو نقلیه وسیلي داورلمبه کړي اویوه اندازه وسلي اونظامي مهمات ئي په ولجه نیولي دي .

دغه شان د هرات له ولایت نه یوه خبرځاي (میډیا) ته ریوټ ورکړي چې مجاهدینو د نومبر په لسمه نېټه ددغه ولایت دزنده جان ولسوالي دجنوب لویدیځې سیمې په ملیشه پوستو ددرندو وسلوډزي وکړي چې په نتیجه کي دکابل رژیم د قواو دوه پوستي فتح ، یوشمېر عسکر اوملیشه وژل شوي اوپاتي نورئي په تیښته بریالي شویدي .

دخبرځاي دخبرله مخي مجاهدینو پدي نښته کي د رژیم له عسکرونه یوه اندازه وسلي ،نظامي مهمات اولوژستیکي مواد د غنیمت په توگه ترلاسه کړي دي .

صفحه ٤

دالبانیا اسلامي ټولني دمسلمانانو په ضد دیونان دحکومت غیرانساني کړه وړه وغندل

د البانیا اسلامي ټولني پرون د خپل دین پدلول د البانیایي مهاجرو مسلمانانو د مجبورولو په غرض د یونان د ننه د ځینو ډلو د فعالیت پرخلاف یوه اعتراضیه اعلامیه صادره کړه .په دي اعلامیه کښي ټینگارشوي دي چې د البانیا په سلگونو مسلمانانو چې په خپل هیواد کښي د ژوندانه له

تأسیس یک مرکز اسلامي درکشور پاراگواي

پاراگواي ۲۳ عقرب

رابطه عالم اسلامي براي نخستین بار ارقام معتبري را درباره، اقلیت مسلمان درکشور پاراگواي درامریکاي لاتین به نشر سپرده است .

قرارابن ارقام درپاراگواي درحدود سه هزارتن مسلمان اکثراً درمناطق هم سرحد با برازیل سکونت دارند . حکومت پاراگواي اخیرا براي مسلمانان اینکشور اجازه، تأسیس یك مرکز اسلامي راکه داراي مسجدي نیز میباشد داده است .

دمزدور رژیم دوحشیانه بمباري په اثر ۳ تنه شهیدان اولس تنه نورټپیان شول

د کابل رژیم جیټ الوتکو د بمباري په اثر د ننگرهارولایت په روداتو ولسوالي کښي دوه کوچنیان د یوي ښځي په شمول شهیدان او ۱۰ تنه نورئي سخت ټپیان شوي دي .

دننگرهار ولایت درو داتو ولسوالي نه راغلو عیني شاهداتو ریوټ ورکړي چي د نومبر په ۱۰ نېټه دکابل رژیم جیټ الوتکو د جلال آباد جنوب ته دروداتو دولسوالي دمرکزدیوانو،چغري اوبروکلي سخته بمباري وکړه چې پکي د سیمي د مظلومو بزگرانو یوشمېر وداني ړنگي شوي ، دوه تنه کوچنیان د یوي ښځي په شمول شهیدان او ۱۰ تنه نور کوچنیان ښځي اوسړي ژوبل شوي دي چې دعلاج لپاره د پېښور روغتونونوته راوړل شویدي .

خبرځاي وائي چې دکابل دکمونیست رژیم

صفحه ٤

په بلخ کښي دمجاهدینو بریالي عملیات

مجاهدینو د مزارشریف دښار په شمال لوري د بلخ ولسوالۍ په دوه کیلومتري کښي پنځه کلي د کابل رژیم د ملیشه ؤ د کنترول څخه د نومبر په لسمه نېټه آزاد کړیدي .

دریوټ مطابق کله چې مجاهدینو د دولت آباد ولسوالي د نومبر د (۸) نېټي له فتحي نه وروسته خپلي قواوي دبلخ دولسوالي دملیشه ؤ ستراتیژیکو سیموته متوجه کړي چي د یونیم ساعت سختي جگړي نه وروسته د کمونیست رژیم یوتن منصبدار او ۱۱ تنه ملیشه ئي د دري عرادو ټانکونو ، ۱۸ میله درندو وسلو او ۱۷۵ میله کلاشینکوفونو ، پنځه میله زیکویك ،

صفحه ٤

مهاجرت صدها فامیل ازمناطق مرکزی افغانستان به پاکستان وایران

خبرنگار (میدیا) ازکویته، بلوچستان به نقل قول شاهدان عیني خبرداد که دراوایل نومبر وبرج گذشته، اکتوبر صدهافامیل ازمهاجرین افغان ازولایات بامیان ، وردك ، پروان و ولایت ارزگان به اثر سیلاب ها ناشي ازبارانهاي تابستان که ازمناطق کوهي افغانستان سرازیرگردیده و اکثریت زمین هاي زراعتي و حاصلات راخساره مند ساخته سبب اوارگي مهاجرین به ولایات دیگر افغانستان و کویته بلوچستان ، صوبه سرحد و داخل ایران شده است .

صفحه ٤

تظاهرات مسلمانان شهر(لیون)فرانسه درحمایت ازحجاب اسلامي

۲۰۰ فرانسوي بتاریخ ۲۵ اکتوبر با براه انداختن تظاهراتي درشهر « لیون » فرانسه خواستار حق حفظ حجاب اسلامي درمدارس شدند .

به گزارش خبرگزاري فرانسه این تظاهرات به دعوت اتحادیه، جوانان مسلمان که اخیراً تشکیل شده است ، برگزارشد .

تظاهرکنندگان پس ازبرگزاري نماز با اجتماع درمقابل کالج « الزاتربوله » که تعداد زیادي ازجوانان مسلمان درآنجا تحصیل میکنند ، خواستار آزادي مراسم دیني شدند . مقامات کالج ازپذیرفتن نمایندگان تظاهرکنندگان خود داري کردند .

هفته‌نامه
اتحاد اسلامی
بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
د امتیاز خاوند : د افغانستان اسلامی اتحاد
د تأسیس نیټه : ۱۳٦٤ کال د عقرب میاشت
خپرونکې اداره : د دعوت اوارشاد فرهنګي څانګه

دورنمای صلح درافغانستان

جهاد اسلامي ملت افغانستان بعد ازسپري کردن سالها رنج وزحمت در آستانه، رسیدن به پیروزي نهائي قدم گذاشته است ، ودرین برهه، حساس تاریخ که لازم دارد تاهمه تنظیم هاي جهادي دست وحدت ویکپارچگي بهم دهند وشیرازه، وحدت اسلامي وملي خود را حفظ نمایند ، استعمار گران با اسلوب مختلف وشیوه هاي متعددي درجهت ازهم گسیختن وحدت وایجاد اختلاف درمیان آنها کار مي کنند، وشب وروز تلاش آن دارند تا ثمره ونتیجه، جهاد نصیب کساني شود که ماهیت اسلامي وملي خود را ازدست داده اند وبه طبل غربیها مي رقصند وبه میل آنها کار مي کنند . این تیپ مردمان که بخش اعظم عمر خود را دردیار غرب سپري نموده اند وبه اسلوب وتقالید وعادات غربیها خو گرفته اند ، همواره سعي دارند تاجهت رسیدن به مسند قدرت وگرفتن زمام امور بدست خویش ، خود را در اختیار ابر قدرت هاي غربي قراردهند ، وازان سنگر بر ضد جهاد ومجاهدین که شب وروز را درپاسداري از ارزش هاي والاي اسلام سپري کنند سنگ اندازي نمایند ، وبه این ترتیب مانع رسیدن جهاد به سرمنزل مقصود گردند . اما گذشت روز ها وحوادث روزگار این ملت مظلوم وبیچاره را طوري آگاهي بخشیده ودرك وبینش عطا نموده که همه تصورات خام دشمنان را درمورد قضیه، جهاد افغانستان بي اثر مي گذارد وبه هیچ صورت به دشمنان قسم خورده اسلام ومسلمانان مجال آن را نمي گذارد که درپشت پرده ودرمیان اطاق هاي تاریك به معامله گري بپردازند ، وبه رأي ونظر ملت توجهي ازخود نشان ندهند، چگونه معقول خواهد بود ملتیکه به قیمت خون خویش از ارزش هاي اسلامي دفاع نموده وتکالیف ورنجهاي طاقت فرساي را درجهت حفظ کرامت ونوامیس خود متحمل گردیده ازقضیه، خود بي خبر ویا درحاشیه مسایل مربوط به خویشتن بسربرده ، بدون شك بوجود آمدن چنین اوضاع درمیان مجاهدین خالي ازپي آمد هاي وخیم نبوده وملت افغانستان به هرقسم که لازم باشد اصالت دیني وملي خود را درمیان اقوام جهان حفظ نموده ودر برابر اغیار به شدت ایستادگي خواهد نمود ، حملات وحشیانه وجنایت بار قواي روسي برسرزمین بي دفاع افغانستان براي فرد فرد این ملت چنان روحیه، ایثار وانتقام جوئي ازکفار بخشیده است که دگر هرگز نمیتوان باحیله ونیرنگ آتش خشم این ملت را فرونشاند ، ویا از شراره، جان سوز آن چیزي کاست ، چون این ملت روزهاي سخت ودشوار تاریخ را پشت سر گذاشته واز موانع ومشکلات که در راهش کاشته بودند باصبر واستقامت عبور نمود ، وقیمت گزاف براي اعاده، استقلال وآزادي خویش پرداخته است ، ودران روزگاریکه همه راهها درداخل بسوي وي بسته شده بود ، وهمه وسایل وامکانات زندگي برویش مسدود گشت ، توانست باصبر وشکیبائي اینهمه مشکلات طاقت فرسا را تحمل کند . واکنون که مسیر تاریخ عوض گردیده ومعیار هاي برتري جوئي نظامي واقتصادي ابر قدرت ها ازهم پاشیده است ، محال است که دربرابر واقعیت عیني جوامع مظلوم وستمدیده ، اسلوب کهنه وروش اسلاف ستمگر وخونخوار خود را تعقیب نمایند ، وراه ورسم آنها را عامل بقاء ودوام نظامهاي استبدادي خویش بدانند .

ملت مجاهد وسلحشور ما باقاطعیت از اهداف وپرنسیب هاي عالي جهاد دفاع نموده ویا اصرار ازآن پشتیباني کامل وهمه جانبه خود را ابراز داشته است ، وازآن روزیکه شکست روسها ورژیم مزدور کابل یك امر مسلم ویك واقعیت اجتناب ناپذیر درعرصه، رویداد هاي جهان تبارز کرد ، حرفهاي صلح وآشتي در رسانه هاي گروهي وبین المللي بلند گردید ، وکفار شرق وغرب براي نجات کشتي طوفان زده، کمونیسم وعمال مزدور آن فریاد ها واستغاثه هاي جانسوزش را بگوش جهانیان رسانیدند ، وازطریق سازمان ملل که در طول عمر حامي مصالح جنایتکاران وستمگران بوده است به وساطت وزمینه سازي براي صلح وآشتي میان مجاهدین وحکومت کابل پرداختند .

ودر ۲۵ حمل ۱۳٦۷ موافقت نامه ابر قدرت ها مبني بر آشتي میان مجاهدین وحکومت قاتل بیش از دوملیون شهید به امضاء رسید وبه اساس آن کمك هاي بشر دوستانه به مهاجرین ومجاهدین افغانستان قطع شد ، ابرقدرت ها به این تصور بودند که اقدام مذکور خواهد توانست مجاهدین را به پذیرش فیصله هاي سازمان ملل وادار ودرنتیجه دست از درگیري بارژیم نجیب بردارند، وصفحه تازه، از دیالوگ هاي سازنده، را بارژیم تحت الحمایه روس بازکنند ، ولي رویهمرفته این تخمین کفار خالي از آب درآمد ونتوانست که ذره، از اراده وقاطعیت این ملت مظلوم وبیچاره بکاهد ، بناء مجاهدین ومهاجرین ما بادرك حقانیت قضیه، شان وجفائیکه ابر قدرتها درحق آنان روامیدارند هرگونه فشار هاي اقتصادي آنها را تحمل نموده وفقر ومرض را با پشیاني باز پذیرفته و ازجهاد ودست آورد هاي آن به دفاع پرداختند ، ولحظه، سر تسلیم به پیشنهادات روس وامریکا وبعضي کشورهاي به ظاهر دوست مجاهدین فرو نیاورده ، وچون صخره ازخود مقاومت وایستادگي نشان دادند، اگر مجاهدین ما به هم چو پیشنهادات که درواقع مصالح کمونیست ها وغرب زده ها را دربردارد مي پذیرفتند ودر برابر آن عکس العمل ازخود نشان نمیدادند سه سال قبل قضیه به نفع کمونیست ها پایان مي یافت ، وآرمان مجاهدین وثمره، جهاد در قبرستان یأس وناامیدي دفن مي شد - ولي همت مجاهدین دلیر وغیرت قهرمانان نامي ما مانع ازآن شد که دربرابر هم چون خواسته هاي که عزت وآبروي مجاهدین را به خاك یکسان سازد سرتسلیم فرود آرند - ودرنتیجه تاکنون جهاد ما باحفظ ونگهداشت اصالت خویش ادامه دارد وادامه خواهد نمود تاآنکه این جهاد به هدف خود نایل نگردد ومجاهدین حکومت دلخواه خویش را که همانا حکومت خدا در روي زمین است تحقق نه بخشند به هیچ نوع پیشنهاد وسازش سر موافقه نخواهند گذاشت ، ودربرابر هیچ نوع فشار خورد نخواهند شد ، بلکه باعزم متین واراده، محکم وتصمیم قاطع بسوي آینده تابناك ومستقبل درخشان گام خواهند نهاد . واین سنت لایزال الهي است که پیروزي ازآن مشعل‌داران راه حق

ص ۳

دحق له کاروان سره

دمؤمنو او متعهدو بندګانو له امتیازاتو او خصوصیاتو نه ډیر مهم صفت او خصوصیت دادی چې دامتحان په ډیرو سختو او مشکلو شیبو کښې هم دحق له کاروان سره ملګرتیا کوی او هیڅ ډول مصیبتونه او کړاوونه نشی کولای چې دحق له جادې څخه یې قدمونه وښویوي .

درسول اکرم صلی الله علیه وسلم دخوږو ملګرو ژوند ددې حقیقت دانعکاس رڼه هنداره ده . هغوی که دحق ددښمنانو او دشیطان دپلویانو له خوا هر څومره وځورول شول ، اقتصادی او اجتماعی مقاطعې ورسره وشوې ، بندیان کړای شول . خپلو کورونو اوجایدادونو څخه تش لاس وتلو ته مجبور کړای شول داهرڅه یې په ورین تندی وزغمل خو دحق له کاروان سره ملګرتیایې پری نښودله او دخدای له ثابت او لایتغیر سنت سره سم په پای کښې فتح هم وریه برخه شوه .

مؤمنان چې کله دحق دکلمې داوچتولو له پاره پاڅون کوی داسلام دهغو سرغښه ؤ دژوند انځور یې په مخ کښې وی چې دظالمو کافرانو دلاسه داور په بټی کښې لکه ښیتي وریشیدل ، دحضرت بلال رضی الله تعالی عنه دتعذیبیدو صحنې یې له پامه نه وځی چې دمکې دمشرکانو یو مشر اُمیه بن خلف به په سرو غرمو کښې دحره‌ښونوځونکې ړاګ کښې راسکوده او بیا به یې ګرمې تیږې پرسینه بدن وراېښودلې او غوښتنه به یې ورڅخه کوله چې دحق ملګرتیا پریږدی او دشیطان مسلك ته واوړی خوهغه به په پخه حوصله او کلك هوډ ځواب ورکاوۀ چې خدای یو دی

دحضرت عمار بن یاسر رضی الله تعالی عنه دکړیدون هغه صحنې یې په نظر کې وی چې اُم انمار به پرتندی دسرو سیخانو داغونه ورکول ، داور پرسکروټو به یې بربنډ څملاوۀ خو هغه خپل ثبات او متانت له لاسه ورنکړ .

دحق په لاره کښې که له ژوند څخه دلاس په سرکیدو وار راشی نو دمصعب بن عمیر رضی الله تعالی عنه ، حضرت جعفر بن ابی طالب رضی الله تعالی عنه او نورو حقپالونکو دشهادت انځورېي سترګوته مخامخ وی ، که په دې لارکښې دلورو تندو تیرولو وار راشی نو دصفې داصحابو هغه خوار زار حالت یې په یاد وی چې په څو څو ورځو به یې دخوراك له پاره یوه ګوله خواړه نه میندل اوحتی لکه حضرت ابی هریره له لوږی نه به بې هوښه پرځمکه راغورځیدل .

دافغانستان مجاهدینو دحق له کاروان سره دملګرتیا او دخدای دکلمې دلوړولو په خاطر پاڅون وکړ ، خوارلس کاله یې په وړی نس او تش لاس دوخت دلوی فرعونی طاقت له مجهزو لښکرو سره مقابله وکړه ، ددې اوږدې مودې په دوران کښې داسې کړاوونه وربانډې راغلل چې په تاریخ کښې ساری او نظیر نه لری ، کورونه ، جایدادونه یې لوټ اوتالا شول خواړه و لادونه یې په بیرحمانه ډول ووژل شول . دطاغوتی زندانونو په بیټ کو خونوکښې دبرق په ډنډو وداغل شول ، ربانړه یې لاس او یې پښو اونیمه خوا شول خو دحق له کاروان سره ملګرتیا یې پری نښودله او دهمدې اخلاص او فداکاری په برکت دکائناتو مالك خپل نصرت اوخاص فضل ورسره ملګری کړ چې په نتیجه کښې دسرو خوګانو پوز دذلت په خاورو ولړل شو اوهغه شیطانی لښکری چې ظاهربینو اومادی پرستو انسانانو دهغو پرضد پاڅون اومقاومت په لیونتوب سره تعبیر وه له داسې حالی سره مخامخ شوی چې په آینده تاریخ کښې به دهر سکیلاکګر طاقت له پاره دعبرت درس وی ، نه یوازې له افغانستان نه وتل بلکې دهغو کیان دړی وړی شو اونقشه او انځوریې نسخ او فسخ شو ، محکومو اولسونو دافغانستان دجهاد له مدرسې نه دحریت او آزادۍ درسونه زده کړل اوپه دې وپوهیدل چې ترڅو پورې یو ملت دقربانۍ میدان ته په خپله ونه دانګی اوخپل سرنوشت وثیقه په خپلو وینو ونه لیکی بل څوك ورته نه آزادی اونه حریت ګټلاګاشی او نه دعزت تاج ورته پرسراېښودلای شی .

«خدا آن ملتی را سروری داد
که تقدیرش بدست خویش بنوشت »

امریکا چې دخپل کفری ماهیت اوله اسلام سره ددښمنی له مخې په افغانستان کښې داسلامی نظام دقایمیدو سرسخته مخالفه ده په حساس وخت کښې یې په عملی ډول دخدای (ج) ددې مبارکې وینا تفسیر وکړ چې « کافران په خپلو مینځو کښې څینې دځینو نورو دوستان دی » ویې غوښتل چې دروس بحشی په اقتصادی ساحه کښې دخپل حریف له ځملولو نه وروسته خپل ټول طاقت په کار واچوی ترڅو دنړی مسلمانان دیو زیر ځواك په حیث تبارز ونکړی اوداسکاره خبره ده چې ددې تبارز مرکزی نقطه افغانستان دی ، هغه یونه ځمکه چې له یو نیم ملیون څخه دزیاتو شهیدانو په مبارکو وینو رنګینه ده ، هغه ځمکه چې داسلامی نظام قیمت یې دسرونو اومالونو په ورکولو سره تحویل کړی دی ، هغه ځمکه چې خوارلس کاله دیاروتو له لوخړو پرته نور څه په کښې ندی لیدل شوی ، دغه شوم هدف ته دړسیدو په خاطر یې دسیاسی حل پروژه وړاندې کړه او دافغانستان داصیلو بچیانو او اصلی وارثانو په لاس دیو سوچه اسلامی نظام دقایمیدو په ځای یې دپراخ بنسټی بیطرف حکومت وړاندیز وکړ او په خواږه غلاف کښې دزهرجنو موادو څخه ډکو کپسولونو په تیارولویې داسې وربښوله چې سیاسی حل باید ضرور راشی اوددې له پاره له مداخلت نه پرته بل صورت نشته او یوازې همدغه لاره ده چې دوینو دتویدو مخنیولای او دغه اورده جنګ ته خاتمه ورکولای شی .

داخواخوږی !! په داسې حال کښې څرګندیږی چې دیونیم ملیون څخه دزیاتو انسانانو وینې توې شوی دی دهغو باعزمو انسانانو وینې چې داالحادی رژیم دتښتونتانو ورکیدل او دخدای دنظام ټینګیدل یې یوازنی هدف ؤ .

په هرحال دا خو دکفری ځواکونو غوښتنې دی چې ددې له پاره یې پراخې هلی ځلی په کار اچولی دی ، دیخوانه مجاهد قوتونه دې دخپلو شهیدانو وروڼو اوخویندو دهدف سره ولاړ قوتونه ، هغه قوتونه چې دلوی خدای په فضل تر دا اوسه پورې یې دکامیابۍ مختلف پړاوونه وهلی دی اوخپل سپیځلی آرمان ته درسیدو په درشل کښې دی . لکه څنګه چې په لومړی پړاؤ کښې دحق له کاروان سره دملګرتیا په خاطر راپورته شوي وو له پخوانه زیات په دې مقکوره سینګار دی چې حق غالبیدونکی دی اوپه دې عقیده لری چې « زمونږ دقضیې دحل کلی دجهاد په سنګرونو کښې ده نه دکفری ځواکونو په جیبونو کښې او اسلامی حل یوازې دهغه چا له خوا راتلای شی چې دآسمان خواته یې لاسونه پورته نیولی دی نه دهغه چا له خوا چې دغې او هغې دروازې ته لاسونه غځوي » .

سفرمسکوچه نتایجی دربرخواهد داشت

قرباني هاي ملت مؤمن و قهرمان افغانستان درطي چهارده سال جهاد که باعث شکست ورسوایي مفکوره، کمونیزم و امپراطوري سرخ گردید و بویژه اسباب بیداري تحریك هاي اسلامي را .درگوشه وکنار جهان فراهم ساخت اینك با دسایس توطئه ها و چلینج هاي دیگر دشمنان اسلام مواجه شده است و آن عبارت از گرم ساختن فضاي حل سیاسي قضیه افغانستان و سرد ساختن سنگرهاي گرم جهاد است .

یکي ازین دسیسه ها و نیرنگ هاي دشمنان جهاد و اسلام طرح پلان پنج فقره اي سرمنشي ملل متحد در باره حل قضیه افغانستان است که به اساس این پلان باید درافغانستان حکومت با قاعده، وسیع که درآن تمام احزاب اسلامي و غیر اسلامي اشتراك نمایند تشکیل شود ، در ابتداء باید یك حکومت انتقالي ائتلافي بوجود آید و بعداً همین حکومت انتخابات عمومي را براه اندازد و ازطریق آن حکومت منتخب تشکیل شود .

چندي قبل سرمنشي ملل متحد از رهبران مجاهدین خواست تا با کمونیست ها در ژنیو روي تشکیل اداره عبوري به گفتگو بنشیند .

این پیشنهاد ازطرف یکتعداد از رهبران جهاد بطور کامل رد شد زیرا مجاهدین بارها گفته اند که تنها وتنها این ها حق دارند تا درمورد آینده خود وتشکیل اداره عبوري تصمیم بگیرند .

این پیشنهاد به سبب ازطریق مجاهدین رد شد که نشست با رژیم کابل درحقیقت به معني اعاده، حیثیت آنها و چشم پوشي از جنایات چندین ساله، آنها ست .

هم چنان اشتراك آنانیکه درطي چارده سال جهاد درکشورهاي بیگانه زندگي پرزرق وبرقي داشته اند و خود و اطفال خود را ازخطر جنگ و خونریزي درامان نگهداشته اند نیز درحکومت عبوري آینده ازطرف مجاهدین مردود شمرده شده است زیرا اینها حق آنرا ندارند تا در باره، سرنوشت آینده کشورشان تصمیم بگیرند حق تصمیم درینمورد باکساني است که بخاطر حفظ حیثیت آبرو ،عزت و ناموس هموطنان شان درسنگرهاي داغ جهاد خون ریخته اند و قرباني داده اند .

نکته دیگر که باید روي آن بحث شود سفر تعدادي از مسئولین جهاد به مسکو و مذاکره با مقامات روسي روي قضیه افغانستان است که این ملاقات و سفر ازطرف یك تعداد از رهبران جهادي درشرایط کنوني جهاد رد گردید . اینها بدین دلیل مذاکره باروسها را رد کردند که رژیم دست نشانده آنها تاکنون درکابل برمسند قدرت باقیست و کمك هاي نظامي روسها هم چنان به آنها درجریان است و همه روزه مردم بي گناه و مسلمان افغانستان هدف حملات هوائي و زمیني قواي روسي و رژیم کابل قرارمیگیرد دلیل دیگر اینها آنست که مذاکره هیئت مجاهدین با روسها از دوحالت خالي نیست یکي اینکه روسها بصفت وکیل رژیم کابل با مجاهدین ملاقات و مذاکره میکند و دوم اینکه روسها ازجانب خود با مجاهدین ملاقات وگفتگو میکند ودرشرایط کنوني درهردوحالت مذاکره و نشست با آنها شرعاً و عقلاً و نیز لحاظ سیاست مردود است زیرا در صورت اول مجاهدین بصورت غیرمستقیم با رژیم کابل صلح و آشتي میکند و به مذاکره با آنها آغاز میکند درحالیکه این عمل به کرات ازطرف مجاهدین رد گردیده است .

درصورت دوم اگر روسها به صفت روس با مجاهدین مذاکره میکند درین حالت به روسها این حق داده میشود که درتصمیم گیري درمورد آینده افغانستان خودرا شریك بداند هرگاه افغانها ازلحاظ اسلام این کار رامي پذیرفتند پس این همه جنگ و خونریزي براي چه ؟

بهرصورت یك تعداد از مسئولین جهاد به مسکو رفتند و با مقامات روسي به بحث و مذاکره پرداختند و درختم این مذاکرات اعلامیه مشترکي ازطرف آنها به نشر رسید درین اعلامیه گفته شد که

ص ۳

نقشه هاي سازمان جاسوسی امریکا درراه مبارزه باجنبش هاي اسلامي درجهان

جنبش هاي اسلامي درجهان درقرن اخیررشد بي سابقه اي یافته و منابع استکبار و ابرقدرتها را در سرتاسرجهان به مخاطره انداخته است .

رشد جنبش هاي اسلامي نگراني هاي درمیان جهان کفر و استعمارگران بوجود آورده ، ازینرویه هرنحوي سعي مي کنند تا جلو فعالیت این جنبش ها را گرفته و ازهروسیله، ممکن براي سرکوبي آنها استفاده مي کنند .

امریکا یکي ازکشورهاي است که رشد جنبش هاي اسلامي را خطر جدي براي منافع خوددرجهان میداندلذا باوسایل گوناگون درتلاش است تا ازرشد جنبش ها جلوگیري بعمل آورده .و نقشه هاي استعماري خودرا براي مبارزه بااین جنبش ها عملي نماید .

سازمان جاسوسي امریکا (سیا) که سابقه، دیرینه اي در ایجاد کودتاها و ترور شخصیت ها و سرکوب جنبشها دارد نقش بارزي در مبارزه علیه جنبش هاي اسلامي درجهان ایفا مي نماید .

سازمان سیا قدرت اجرایي شوراي امنیت ملي امریکا بشمار میرود ، و سیاست امریکا را بمورد اجراء در مي آورد، فعالیتهاي سازمان سیا عبارت اند از : جاسوسي ، ضد جاسوسي ، پخش اخبار و شایعات و اطلاعات دروغ ، جنگ رواني نفوذ در مؤسسات ، احزاب ، استخدام جاسوسان واستفاده ازمطالعات دانشگاهها درجهت منافع امریکا ، ایجاد کودتا ها درکشورهاي مختلف ، تزورشخصیتهاي سیاسي و سرکوب جنبش هاي آزادیبخش بالخصوص حرکت هاي اسلامي .

فعالیت هاي اشکار و پنهان سازمان جاسوسي یك هدف را تعقیب میکند و آن حفظ منافع استعماري امریکا است . براي سازمان سیا مهم نیست که ملت ها در نتیجه فعالیتهاي جاسوسي این سازمان آسیب هاي ببینند ، بلکه مهم اینست که هدف هاي امریکا در نقاط مختلف جهان تحقق یابد .

امریکا براي تحقق هدفهاي جاسوسي خویش بودیجه، هنگفتي به این امر اختصاص داده که سالانه ۲۵ درصد افزایش مي یابد .

سازمان سیا (C.I.A) دوره هاي متعدد تربیتي را براي منسوبین خود که تعداد آن به ۱٦۰۰ نفر بالغ میگردد ، برگزار مینماید . این سازمان درسال ۱۹۸۰ میلادي ۳ کنفرانس مطالعاتي را جهت تحقق هدفهاي خویش برگزارنمود ولي به علت گسترش حرکت هاي اسلامي درسالهاي اخیر تعداد اینگونه کنفرانسها رابه ۷۵ کنفرانس افزایش داد .

اکثر کنفرانسهاي که توسط سیا برگزارمیشود به مطالعات اسلام ، جهان اسلام و جنبش هاي اسلامي اختصاص دارد و استادان و محققین عضو این سازمان براي آشنایي بهتر با اسلام ، جهان اسلام و جنبش هاي اسلامي ازدیگر محققین و استادان دانشگاه ها براي شرکت دراین کنفرانس هادعوت بعمل مي آورند

سازمان جاسوسي سیا پس ازجنگ جهاني دوم تأسیس گردید ولي فعالیت این سازمان دردهه، ۱۹٦۰ میلادي گسترش یافت . یکي از علل گسترش فعالیت این سازمان انتشار فقر و بیکاري در اروپا بود و سازمان سیا با پرداخت پول توانست بسیاري از اشخاص رابه استخدام خود درآورد .

صهیونیست هاي امریکا نقش بارزي درگسترش سازمان سیا ایفا نمودند که میتوان از « هنري کیسنجر » وزیر خارجه اسبق امریکا ، « یوب اثمان و دیوید » « یورنبوگر » رئیس کمیته جاسوسي درکنگره امریکا نام برد .

استراتیژي جدید سازمان سیا بر پایه، جلوگیري ازرشد جنبش هاي اسلامي درجهان استوار است .

طبق نوشته مجله یو . اس نیوز مؤرخ ۱۷ / ۹ / ۱۳٦٥ هجري شمسي « دولت امریکا از ایجاد حکومت اسلامي درشرق میانه درهراس است » .

این مجله درمصاحبه با دوکتورمیشیل هاریسون متخصص امور اعراب نوشت : « گروهها اسلامي بزرگترین خطر است که اسرائیل را تهدید میکند » .

ادوارد لوتواك مشاور دولت امریکا در امور استراتیژیکي و نظامي درمصاحبه اي با روزنامه ایطالیائي اسپرسو مؤرخ ثور ۱۳٦٥ هـ ش گفت : « آغاز یك جنگ صلیبي علیه جهان اسلام تنها راه متوقف کردن انتشار اسلام و جلوگیري ازرسیدن آن به اروپا است » .

براي تحقق هدفهاي فوق ، سازمان سیا به نامه ها و طرحهاي وسیعي جهت سرکوبي جنبش هاي اسلامي تدارك دیده است که میتوان ازموارد ذیل نام برد :

۱- ازبین بردن شخصیت ها ورهبران جنبش هاي اسلامي بوسائل گوناگون ازجمله، ترور .

۲- تهیه گزارشهاي دوروغین درمورد فعالیتهاي اسلامي و تقدیم آن به دولت هاي کشورهاي اسلامي و عربي .

۳- تشکیل گروههائي جهت انجام عملیات تروریستي و نسبت دادن آ ن به جنبش هاي اسلامي .

٤- انجام عملیات تروریستي وترور

ص ۳

غیبت وحسادت

(عبدالرقیب جهید)

غیبت وحسادت دوخصلت زشت اخلاقي واجتماعي است که چون شیطنت وتمامت جامع را به پرتگاه هلاکت سوق میدهند وافراد غیبت گر وکنیه ورز همواره مورد خشم وقهر خداي عزوجل اند وعبادت وطاعت آنها مقبول درگاه الهي نیست تا آنکه ازین دوخصلت بد را ترك نکنند واخلاص وصمیمیت را عملاً با برادر مسلمان خود قایم نسازد ! ودرصورت اصرار واستمرارگناه کبیره خوف وقوع درکفر است . غیبت آنست که درغیاب شخصي (مؤمن ویا مؤمنه) چیزهاي گفته شود که اگر در حضور مغتاب عنه گفته شود سخت آشفته ومتأثر گردد برابر است که دروجود وي همان عیب وطعن موجود باشد ویاخیر ! چه پوشیدن عیب مسلمان هم ازجمله ضروریات است زیرا کسیکه از افشاء عیب برادرمؤمن خود داري میکند خداوند جل جلاله عیوب اورا مستور نگهمیدارد وخرقه، عیب آلودش را نمي درد . بعضي اوقات درغیبت چنان مبالغه وگزاف گوئي بعمل مي آید که بهتان وافترا، برکسي ویاقومي بسته میشود درحالیکه درنفس الامر آن شخص وآن قوم ازین زدوبندهاي میان تهي مفترین ومغتابین پاك ومبرا میباشند پس غیبت مطلقاً با تمام اقسام وانواع قبیح بوده وپروردگار جلت عظمته مرتکبین این عمل زشت را شدیداً نکوهش نموده واکیداً منع کرده است قرآن کریم گناه غیبت را چنین تمثیل وبیان فرموده است « آیا خوش دارید تا

ص ۳

فلسطین اودنړیوالو کفری ځواکونو ناولي توطئی

دعربی مشرانو خیانت اوجفا

د عمان له کنفرانس نه وروسته دفلسطین آزادی بښونکی سازمان له برم نه ولوید اود مبارزی د تګلاری بحران « هماغه شان بی ځوابه پاتی شو . فلسطینیانو چی د ۱۹۴۸ میلا دی کال راهیسی د سوسیالیزم د ځینو عناصرو په ترکیب سره ناسیونالیستی آیدیولوژی خپله مبارزاتی تګلاره غوره کړی وه ، د تاریخ په دغه حساس پړاوکښی د آیدیولوژی له فقر سره مخامخ وو . ځکه چی موجوده آیدیولوژیو د مبارزی د غوښتنو له پاره بسنه نه کوله نوله همدی امله د نوروتګلارو په تکل کښی وو . پان عربیسټم اومارکسیستی افکارو چی په لبنان اوفلسطین کښی‌کومی ریښی ځغلولې وې ونشو کولای چی د فلسطینیانوغوښتنوته ځواب ووایی نو همدالامل ؤ چی د نیول شوی فلسطین فلسطینیان له دغو آیدیولوژیو نه هم بیزاره شول .

دفلسطین ملت د خپلو مبارزو په اوږدوکښی ، عربی دولتونه د فلسطین د خلاصون اوله اسرائیلو سره د جګړی مهم عامل تلقی کړول سره له دی چی د فلسطین مقاومت د خپل جوړښت له لومړیو ورځو څخه له عربی هیوادونوسره متعددی شخړی او اصطکاکونه درلودلی دی خوله دغو هیوادونو څخه د مرستی غوښتنه تل دوخت له ارتباط څخه شمیرل کیده ، دوخت تیریدل اودعربو اوعربی رژیمونو د اختلافاتو پراختیا د اوسود له چی عربی هیوادونه نه شی کولای د فلسطین د آزادی له پاره یو قدم قدری هم اوچت کړی اوهمدا ددغو هیوادونو کمزورتیاوچی اسرائیلو سره یی د روغی جوړی په لار روان کړل .

د عربی رژیمونو په مینځ کښی د فلسطین د آرمان د هیرولو وروستی ننبه د عمان کنفرانس ؤ چی د ۱۹۸۷ میلادی کال په وروستیو کښی جوړ شو . دغه کنفرانس عربی هیوادونوته د فلسطین د ملت د امیدونو اوهیلو ټولی جرړی غوڅی کړي .

د عمان له کنفرانس نه زیاته موده نه وه تیره شوی چی فلسطینیانو خپل نوی حرکت پیل کړ . دغه حرکت د ځوریالیو چریکی عملیاتو په ترسره کولو سره پیل شو اوبیا وروسته د غزی ټوله‌تراوه سترو مظاهرو په برکښی وتیوله.ددغه خوځښت اصلی مرکز د اسرائیلو په جنوب لویدیځ اود مدیترانی د بحیری په غاړه ، د غزی تراوه وه . د غزی تراوه د نوروفلسطینی سیمو په نسبت خپل پخوانی عنعنوی جوړښت زیات حفظ کړی او اسلامی عقیده اوس هم ددغې سیمی په اوسیدونکو کښی زیات نفوذ لری . له مصر سره د غزی د تراوی فرهنګی پیوستون هم ددغې سیمی په ټولنیزجوړښت کښی ډیرښه پارامترګڼل کیږی اوپه نتیجه کښی د مصر د اسلامی حرکتونو وده هم ددغې سیمی په اوسیدونکو باندی د پام وړ اغیزه کړی ده

د اسوشیدت پرس خبری آژانس داردن د سیند په لویدیځه غاړه اود غزی په تراوه کښی د اسلامی تحریک دودی اوپراختیا په هکله لیکلی چی دغه اوسنی اسلامی تحریک د ۱۴۰۸ هجری قمری کال د محرم په لومړی نیټه هغه وخت پیل شو چی د « شبیه » (د الفتح گوند پوری د مربوطو ځواناتو ولډه) تحریک ترکنترول لاندی د محصلینو شوری د نوی هجری قمری کال د راد بره کیدو په اړه ځانګړی مراسم جوړکړل .

دری ورځی وروسته اسلامی بلاک (الکتلة الاسلامیه) په دغه مناسبت دپوهنځی په آنګړکښی خپل ځانګړی ، منع شوی ، مراسم پیل کړل .

د نابلس روحانی مشر ٥٦ کلن صبحی عبطاوی ، چی له اخوان المسلمین سره د اړیکو په درلودلو سره شهرت لری ، وویل : « د اسلامی بلاک متقابل مراسم په دی دلیل سره پیل شول چی د نوی کال د مراسمو اجازه ورکوونکی ، لکه څنګه چی قرآن وایی په اسلام عمل نه کوی » .

د شبیه دولی رهبر اود محصلینو د شوری رئیس وویل : چی د اسلامی بلاک غونډه د یوډول قدرت ښودل ؤ . دغه په وینا « اسلامی بلاک وایی چی په پوهنځی کښی مونږ هم یوقدرت یو اوغواړو چی د ویلو له پاره خبره ولرو » .

د اسلامی تحریک د پلویانو غوښتنه داوه چی د پوهنځی د ټولو جوماتونو اوغونډوکنترول دی د هغوی په لاس کښی وی خود د فلسطین د آزادی بښونکی سازمان پلویان‌ددغی غوښتنی مخالف ؤ . د فلسطین د آرمان په وړاندی د اسلامی تحریک د پلویانو اصولی دریځ ددی سبب شو چی په نیول شوی فلسطین کښی اکثره اوسیدونکی دغه اسلامی حرکت ته ګروهنه پیداکړی اودخپل سرنوشت د ټاکلو له پاره اسلامی تګلاره خپله کړی . اسوشیدت پرس په هغه وخت کښی د اسلامی مبارزینو د پوتن مشر زید بلال له خولی ولیکل : « مونږ مارکسیزم اود آیدیالوژی ټول ډولونه د تیرو ٤٠ کلونوژد اسرائیلو د جوړیدو له وخته) په ترڅ کی وآزمویل ، خوپه جګړه کښی مومانی وخوړه . اوس خلك په دی وپوهیدل چی بریالیتوب یوازی د خدای له لوری راځی » .

